

# رحمان بابا

## پر شاعرۍ
## د قرآن او حدیث اثرات

ډاکټر شهاب عزیز ارمان

د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآن او حدیث اثرات

ډاکټر شهاب عزیز ارمان

# The Impact of Qura'an & Hadith on the Poetry of Rahman Baba

Dr. Shahab Aziz Arman (Ph.D)

2022

ISBN 978-9936-661-40-0
9 789936 661400

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآن او حدیث اثرات

## (د دکتورا تیسس)

ډاکټر شهاب عزیز ارمان

## د کتاب ځانګړنې


**د کتاب نوم:** د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآن او حدیث اثرات

**لیکوال:** ډاکټر شهاب عزیز ارمان

**ایډیټر او مهتمم:** څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** لایف سټار مطبعه، کابل- افغانستان

**د چاپ کال:** ۱۴۴۴هـ. ق / ۱۴۰۱ل/ ۲۰۲۲م.

**ISBN:** **۰- ٤٠- ٦٦١- ۹۹۳٦- ۹۷۸**



**د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# مننه

له ټولو لومړی د سترواک او خپلواک الله تبارک و تعالیٰ ډېر ډېر شکرگزار یم چې ما ته یې د دې تیسس د لیکلو توان، صلاحیت، حوصله او همت راکړ او په قدم قدم یې پر ما خپل کرم او فضل کړی دی. یقیناً چې په لفظونو کې زه د خپل ستر کارساز الله سبحانه وتعالیٰ شکریه نه شم ادا کولای. بیا زه د خپل مور او پلار د دعاگانو، مرستې او ډاډگیرنې منت بار یم. د خپل گران استاذ او نگران محترم پروفیسر-ډاکټر محمد اسلام گوهر صاحب د مینې او مرستې هم ممنون یم. د ستر ادبي قهرمان محترم همېش خلیل صاحب هم یو جهان مننه کوم چې د څه شعرونو په حواله یې راسره مرسته کړې ده. خصوصي مننه د ارواښاد پروفیسر داور خان داود صاحب، جوهر خلیل صاحب او ډاکټر فقیر محمد فقیر ورور (د باچا خان پوهنتون لکچرر) چې که ځینې نایاب کتابونه یې نه وای راکړي، نو دا تیسس به نه و تکمیل شوی. بیا د جوهر خلیل صاحب او "امېل" مجلې د ټولو ملگرو هم خصوصي مننه کوم چې زه یې هڅولی یم او هر وخت یې د دې تیسس په حواله پوښتلی یم چې کله به پوره کېږي.
د خپلو ډېرو خوږو دوستانو او ځینو شاگردانو(خصوصاً د خپل خاص شاگرد ودود نعماني) هم شکریه ادا کوم چې دعاگانې یې راته کړي او د دې څېړنې په حواله یې وخت پر وخت خپلې نېکې هیلې او خواهشات څرگند کړي دي. د دې تیسس په تکمیل او تشکیل کې د څو شخصیتونو، لکه د ( اسلام اباد د قاید اعظم پوهنتون دnips ډایرېکټر) پروفیسر- ډاکټرحنیف خلیل (له خاکې سازولو څخه تر بشپړېدو پورې)، د ( تنگي کالج دکمپیوټر ساینس لکچرر)، محترم محمد عدنان، د (تنگي د ډگري کالج پرنسپل) پروفیسر محمد ادریس، د محترم استاذ مولانا احمد ارشاد شاکر او د خپل کشر ورور حافظ عامر عزیز(گولډ مډلسټ) د علمي مرستې ډېر ډېر ممنون یم. د (پېښور د اسلامیه کالج د تهیالوجي څانگې) د پروفیسر ډاکټر سلیم الرحمان صاحب د دې څېړنې د خاکې په جوړولو او په ټلیفون د ځنیو علمي پوښتنو د ځوابونو او مرستې هم شکریه ادا کوم. د خپلو ادبي مشرانو ډاکټر سهېل انشاء مرسته او د شبېر احمد خلیل صاحب نېکې هیلې هېرول هم را ته انصاف نه ښکاري، له دواړو یو جهان مننه. د ادم خان لالا او د لایبرېرین شاهد صاحبانو په رڼه ټنډه مرسته هم نه شم هېرولی. د عابد خان ربگي هم مننه چې د مقالې د ځینو برخو کمپوزنگ یې په مینه

کړې دی. د خپلې کوروداني د مرستې او ډاډګيرنې هم ممنون یم. د خپلو وروڼو کاشف عزيز، واصف عزيز او حافظ عاطف عزيز هم ډېره مننه کوم چې د تحقيق په دې ټوله مرحله کې يې زه د کور له ذمه وارو څخه بې غمه ساتلی یم؛ زما د برخې کارونه يې تر سره کړي او وخت پر وخت يې د دې تيسس په حواله له ما څخه معلومات اخيستي دي.

له ښاغلي ډاکټر رفيع الله نيازی هم ډېره مننه کوم چې زما تيسس يې وکوت او چاپ ته يې برابر کړ او د افغانستان د اسلامي امارت د علومو اکاډمی له مشرتابه او د اطلاعاتو او عامه اړيکو له رياست څخه هم ډېره مننه کوم چې زما تيسس يې چاپ کړ.

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


**مقدمه** ........................................ ۱

**لومړی باب**

**د رحمان بابا ژوند، فکر او فن**

د رحمان بابا پېژندگلو ........................................ ۱۵
د رحمان بابا پیدایښت ........................................ ۱٦
د رحمان بابا د وفات کال ........................................ ۳۵
ولدیت او قام قبیله ........................................ ۳۹
زده کړه او علمیت ........................................ ٤۳
د ژوند عامه خاکه ........................................ ٤۵
د رحمان بابا اولاد ........................................ ٤۷
رحمان بابا د خپل کلام په رڼا کې ........................................ ٤۸
د رحمان بابا مذهبي عقیده ........................................ ۵۱
اخلاقي حالت او ټولنیزه (سماجي) رویه ........................................ ۵۲
د رحمان بابا سیاسي شعور ........................................ ۵۵
د رحمان بابا د شاعرۍ فکري اړخونه (موضوعات) ........................................ ۵۷
د رحمان بابا په شاعرۍ کې اخلاقیات ........................................ ۵۷
قناعت او استغناء ........................................ ٦۱
نېک خویي ........................................ ٦۲
ښېګړه او احسان ........................................ ٦۲
اخلاص ........................................ ٦٤
سخاوت ........................................ ٦۵
رحمان بابا او تصوف ........................................ ٦۸

عشق او جماليات ........................................................ ۸۹
د رحمان بابا په کلام کې انسان دوستي.................................. ۱۰۹
د رحمان بابا په کلام کې ترقي پسندي.................................. ۱۲۲
د رحمان بابا په کلام کې رومانویت ..................................... ۱٤۷
د رحمان بابا د شاعرۍ نور ممکنه فکري اړخونه ........................ ۱۷۰
د رحمان بابا د شاعرۍ فني اړخونه...................................... ۱۷۲
د رحمان بابا اسلوب................................................... ۱۷۷
د رحمان بابا تنقیدي شعور او افکار.................................... ۲۰۱
د رحمان بابا غزل ..................................................... ۲۱٤
د رحمان بابا په غزل کې تغزل ........................................ ۲۳۹
د رحمان بابا قصیده گویي ............................................. ۲۵۹
د رحمان بابا په کلام کې صنایع بدایع (فني محاسن) ................... ۲۷۷
معنوي صنعتونه ........................................................ ۲۹٤
د رحمان بابا په کلام کې متل........................................... ۳۰۵
د رحمان بابا په کلام کې محاوره ....................................... ۳۳۲
د رحمان بابا په کلام کې نسبت او تلازمه .............................. ۳۵۰

**دویم باب**

**د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآنِ حکیم اثرات**

د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآنِ حکیم اثرات (عمومي جائزه) ................ ۳٦۵
د رحمان بابا په شاعرۍ کې د دین او مذهب یادونه.......................... ۳۷۷
د قرآن حکیم له آیتونو څخه د رحمان بابا نېغ په نېغه استفاده.............. ۳۹۷
د رمز او کنایې په اساس د رحمان بابا په شاعرۍ کې قرآني مضامین ......... ۵۵۷

**درېیم باب**

**د رحمان بابا پر شاعرۍ د احادیثِ کریمه اثرات**

د رحمان بابا پر شاعرۍ د سیرت او حدیث اثرات(یوه عمومي جائزه)............ ٦۱۷
د رحمان بابا په شاعرۍ د احادیثِ کریمه او سیرت النبي(ص) اثرات ............ ٦۱۷
د رحمان بابا له احادیثو نه نېغ په نېغه او رمزي او کنایي استفاده........... ٦۳۰

له ضعیفو او موضوعي حدیثونو څخه د رحمان بابا استفاده (تجزیه او وجوهات) ۸۰۶

## څلورم باب

## د رحمان بابا په شاعرۍ کې حقیقي عشق او د خالق(ج) حقونه

حقونه، عبادتونه او د بنده ذمه واري ........................................ ۸۳۱
د رحمان بابا عقاید او حقیقي عشق ........................................ ۸۳۵
د رحمان بابا تصوفي عقاید ........................................ ۸۵۲
د تصوف مشهور نظریات ........................................ ۸۶۱
رحمان بابا او حقیقي عشق ........................................ ۹۰۰
د رحمان بابا په شاعرۍ کې د خالق(ج) حقونه ........................................ ۹۳۳
د رحمان بابا په شاعرۍ کې د اسلام ارکان او د دې متعلقات ........................................ ۹۳۹

## پنځم باب

## د رحمان بابا په شاعرۍ کې د مخلوق حقونه

د مخلوق د حقونو پېژندګلوي او د بندګانو ذمه وارۍ ........................................ ۹۸۱
د رحمان بابا په شاعرۍ کې د بنده ګانو د حقونو یادونه ........................................ ۹۹۵
د رحمان په بابا شاعرۍ کې عالمګیر انساني پیغام ........................................ ۱۰۰۶
د رحمان بابا په شاعرۍ کې اخلاقیات او اخلاقي رویې ........................................ ۱۰۲۷
محاکمه او خاتمه ........................................ ۱۰۶۵
خلاصه ........................................ ۱۰۶۵
محاکمه ........................................ ۱۰۶۸
نتیجې او فیصلې ........................................ ۱۰۷۰
تجویزونه ........................................ ۱۰۷۶
کتابیات ........................................ ۱۰۷۹
حوالې او حاشیې ........................................ ۱۰۹۹

# مقدمه

په نړیوال کچ عالمي ادب ډېرې داسې سترې هستۍ لري چې د خپل کلام د معنویت، ارزښت او عظمت له رویه ورته د عام قبولیت او بقای دوام شرف تر لاسه دی. د شمېر په دغو څو هستیو کې یو دروند، خوږ، منلی او تلپاتې نوم د افاقي او عالمگیر شاعر عبدالرحمان مومند (رحمان بابا) هم دی. د رحمان بابا په انفرادیاتو کې یوه مهمه خبره دا هم شامله ده چې هغه د ټولنې (سماج) لپاره د کوم وگړي د تشکیل، تکمیل او تعبیر کوم تصویر او تصور وړاندې کړی، نو هغه لومړی پخپله د همدغه تصور عملي تعبیر او تفسیر دی. په خپله شاعرۍ کې د وړاندې شوي اخلاقي کردار لومړۍ عملي مظاهره د رحمان بابا ذاتي ژوند او کردار دی. تر ننه پورې سینه په سینه روایت د هغه د یو سپېڅلي، کوټلي، پیاوړي او باکرداره انسان په ثابتېدلو کې هېڅ اختلاف نه لري. هغه له وینا سره سره د کردار هم یو سُوچه غازي و.

له خپل دور څخه تر اوسه د رحمان بابا شاعري د توجه مرکز پاتې شوې ده. هر چا، هغه ته په خپل شکل کتلي دي. د هر چا د نظر زاویه جدا ده خو مهمه خبره دا ده چې رحمان بابا د خپلې شاعرۍ تفسیر پخپله هم کړی دی. په دې اړه د هر چا په مقابله کې د هغه تفسیر او تعبیر زیات د اعتماد وړ گڼل د څېړنې او انصاف مهمه غوښتنه ده:

دا چې زه و تا ته وایم که یې خدای کا
په آیات و په حدیث کې به څرگند وي

دا دعوه که هر څو ډېره لویه ده، خو محض فرطِ جذبات او دعوه نه ده څکه

د رحمان بابا د شاعرۍ متني مطالعه ثابتوي چې هغه له قرآن او حديث څخه په خپله شاعرۍ کې ښه ډېره استفاده کړې، خو دا استفاده دومره خوږه او فني ده چې د رحمان بابا شاعرانه فن يې هم لوړو پوړيو ته رسولی او د هغه شعر ته يې د قبوليت، افاقيت او عالمګيريت سند وربخښلی دی. څنګه چې قرآن او حديث تر قيامته نافذ العمل او باقي دي، دغه شان له همدې لافاني چينو څخه استفادې د رحمان بابا شاعرۍ ته هم د بقا اعزاز وربخښلی دی.

رحمان بابا د خپل دور مروجه علوم ښه کره زده کړي وو. په هغه زمانه کې چې په پښتنه سيمه کې کوم تعليمي نصاب ښودل کېده، نو اغلب ګومان دا دی چې رحمان بابا له هغې څخه فارغ التحصيل و. دا خو د منلو خبره ده چې د هغه دور په نصاب کې به قرآن، حديث، سيرتِ مطهره، فقه او متعلقات لازمي مضمونونه وو. خصوصاً د قرآن او حديث زده کړه رحمان بابا ځکه کړې ده چې کله د ژوند هنګامو لړ رانيولی او له دې دوو سرچينو څخه ورته د لرېوالي احساس شوی، نو دې لور ته يې يو ځل بيا د ناستې او لوستې حسرت دا شان څرګند کړی دی:

د قرآن او د حديث په کتو خوښ شوی
بيا په لاس حديث قرآن وليدی دريغه

د دنيا جمله تعميري علمونه د قرآن او حديث له کومي راوتلي، يا له اوله که د دغو علومو روايت وو، نو قرآن او حديث پرې تعميري او ګټوره اضافه کړې ده. همدا وجه ده چې د رحمان بابا په شاعرۍ کې هم په دغو علومو او له ژوند سره پر تعلق لرونکيو شعبو باندې شعرونه موندل کېږي. د بابا شاعري وچ، بې محله او بې اساسه وعظ نه، بلکې دا د تحريک او عمل شاعري ده. د ژوند د فلسفې نماينده او ښکارندويه کلام دی. د ژوند په ناکاميو او مايوسو کې د اميد مشال او د کامياب ژوند د سفر سنګِ ميل دی. د ولس د هر زړه او هرې طبقې د نفسياتو او روحاني غوښتنو ترجماني ده.

ځينو خطاباتو، لکه صوفي، ملنګ، درويش، قلندر او دغه شان د رحمان بابا په شاعرۍ کې د قلندر او درويش د تصور لټون د هغه د خيالاتو او فلسفې په موندنه او انکشاف کې د خښد کردار لوبولی دی. دا خو په اصل کې ما ته د دې افاقي او عالمګير

شاعر د محدودولو شعوري او ناشعوري هڅې او هاند ښکاري. دغو څو لفظونو د هغه د شاعرۍ د اصل روح په پېژندګلوۍ کې یو داسې جمود پیدا کړی، چې که څوک له دغو خطاباتو او القابو سره د تاریخي روایت په رڼا کې ښه په دلالت اصولي اختلاف هم ولري، نو د ولس او لیکونکیو یوه خاصه طبقه له افسوسناکې حیرانتیا سره مخامخ شي. په هر حال د هر چا خپل خیال او نظر دی، پر هېچا قدغن نشته. د رحمان بابا د کلام نوي جهتونه لټول، له مروجه زمانې سره په حقیقي توګه د هغه د تعلیماتو تشرېح کول، هغه مخې ته راوړل او د ماده پرستۍ او اخلاقي انحطاط په دې دوره کې هغه د خپل فکر او عمل برخه جوړول د کامیابۍ له لارو څخه یوه مهمه او غیر اختلافي لار هم ده او د رحمان بابا د دوامي شاعرۍ غوښتنه هم.

د دې تیسس د لیکلو تر شا بنیادي محرک هم دا و، چې یو خو د دې څېړنې اساسي شعر د مفروضې (Hypothesis) په توګه زما مخې ته و او بل د بابا د شاعرۍ په اړه له شویو ډېرو تعبیراتو سره زما اتفاق نه راته. څه شعرونه به ما ته ښه سم د اسلامي نظریاتو، مجازي عشق، ترقي پسندۍ، جمالیاتو، رومانویت او د نورو نماینده برېښېدل، خو په هغې کې به خامخا د تصوف د اساسي نظریو شعوري لټون شوی و. هغه به ارومرو په دغو صفونو کې ودرولی شول. زموږ لیکونکیو رحمان بابا د ادب د اسمان لمر ګڼه، خو په دې اړه ځینې صرف د لمر یوه خصوصیت ته قایل وو. د دې لمر د نورو خاصیتونو، صلاحیتونو، فایدو او ګڼ اړخیز کردار منلو ته تیار نه وو. د رحمان بابا اول الذکر شعر ما ته دا ادراک هم راکړ، چې د هغه د شاعرۍ د متني مطالعې پر بنیاد دې یوه داسې تجزیه وکړای شي، چې یو خوا د هغه د شعر د سرچینې موندل په دلیل سره ثابت شي او بل خوا د هغه د قرآن فهمۍ او حدیث فهمۍ درک هم معلوم کړل شي. د دې مهموالی په دې حواله هم ډېر و، چې د رحمان بابا د شاعرۍ پر موضوعاتو تر څه حده کار شوی، خو دا دومره مهمه او کلیدي موضوع لا هم هغسې نه ده څېړل شوې، څه ډول چې پکار وه. په دې اړه د ګوتو په شمېر په درې درځنو شعرونو تبصره تر لاسه کېدای شوه، البته ځینو لیکونکیو دا اظهار کړی و، چې د رحمان بابا شاعري له اسلامي تعلیماتو څخه مستفیده ده. زما خیال دا دی چې دا شاعري تر ډېره زیاته حده

له همدغو ایمان افروزو تعلیماتو څخه عبارت ده.په دې لړ کې د یوې لویې او خورې ورې څېړنې اړتیا وه (او اوس هم ده). همدې اړتیا او اهمیت دې څېړنې ته زما په غاړه اېښودلو کې د یو رجحان جوړوونکي محرک کردار تر سره کړی دی.

دا پوښتنه هم ډېره مهمه وه، چې د رحمان بابا د وفات له درې سوو څخه ډېر کلونه وشول او په پښتو ادب کې د باقاعده څېړنې د عمل هم یوه پېړۍ پوره کېدونکې ده، نو بیا دا برخه ولې له پامه لوېدلې وه؟ په اصل کې دا موضوع د خپل اهمیت او اړتیا له ارزښت څخه زیاته مشکله هم ده، ځکه چې قرآني علوم ځان ته بې پایانه سمندر دی. مبارک احادیث پر خپل ځای د قرآن لومړنی تفسیر او د علم او حکمت نه ختمېدونکې خزانه ده. بیا د رحمان بابا شاعري هم د دغو دواړو په وجه یوه ادبي عجوبه ده؛ نو که له دې رویه ورته گورو په ظاهره خو قرآن او حدیث د اسلام په دایره کې داخل او لومړني مأخذات دي، خو په حقیقت کې قرآني علوم ځان ته، مبارک احادیث ځان ته او بیا ادب ځان ته څېزونه دي. دا پر یو وخت په دریو جهتونو باندې مبنې څېړنه ده ځکه نو د دې لپاره ډېر وخت، ډېره پوهه او ډېر زیار پکار وو (د راقم د پوهې او زیار ټکي دې منفي و نه گڼل شي، ځکه چې راقم د ټولو ادبي مشرانو پوهې، علم او زیار ته قایل او معترف دی او پخپله صرف د ادب یو ادنیٰ زده کوونکی دی). دې څېړنې له هر څه ډېر د مور زړه، تاندې جذبې او لوړ همت تقاضا کوله او دا د الله تعالیٰ کرم و چې پر ما غوندې کمزوري طالب علم یې دا مهرباني وکړه او دې کار ته یې په ذهني، قلبي او روحاني توگه تیار کړم. د دې څېړنې یو مهم محرک له رحمان بابا سره زما مینه او عقیدت هم دی، خو د یادونې وړ ده چې د دې څېړنې پر مهال او نتیجو کې ما د عقیدت پر ځای له حقیقت څخه کار اخیستی دی.

نن سبا د انگرېزي ادبي رعب زموږ ځینې لیکونکي دومره مرعوب کړي، چې کله خبره د John Milton د مشهور کتاب The Paradise Lost راشي، نو هغه ورته ادبي شاهکار ښکاري، خو چې ما د رحمان بابا د شاعرۍ جائزه د قرآن او حدیث په رڼا کې د اخیستو هیله څرگنده کړه، نو د هغوی خیال دا وو، چې دې مذهب نما څېړنو ته په ادب کې څه اړتیا ده؟ د افسوس خبره هم دا ده چې پورتنی انگرېزي اثر چې

شاهکار ګڼل کېږي او د ادب د يوې لافاني فن پارې تصور يې پر شا ولاړ دی، ايا هغـه د ادم عليه السلام، بي بي حوا عليها السلام او د شيطان پر قصه مبني نه دی؟ ايا دا قصـه په ټولو اسماني مذهبي کتابونو کې نشـته؟ د دې قصـې لـومړی درک ټولـو انسـانانو تـه مذهبي کتابونو نه دی ورکړی؟ ولې جان ملټن دا قصه له انجيل څخه نه ده اخذ کـړې؟ نو بيا ولې د رحمان بابا ايمان افروزې شاعرۍ او د هغـه دينـي خيـالاتو تـه دې پـه ټيـټ نظر وکتلای شي؟ دا خو دوه رنګي ده او دوه رنګي هېڅ جواز نه لـري. د دينـي شـاعرۍ له دومره ډېر مقدار سره سره دې د رحمان بابا د ژبې، ادبيت او جمله شاعرانه فـن مثـال په پښتو ادب کې څوک وړاندې کړي، خو خبره هماغه ځای ته راشي چې رحمان بابـا د محدودولو له کبله پټ پاتې او بيا د هغه د شاعرانه فن له څېړلـو څخـه خـو اکـثر پـه دې وينا ځان ژغورنه شوې، چې "د رحمان بابا شاعري، اسانه، روانه، ساده او عام فهمه ده". بې شکه چې د هغه شاعري د سادګۍ، اسانۍ، روانۍ او بـې تکلفـۍ غـوره مثـال دی او همدا د هغه د کمال فن دی چې هغه د مذهب په شان دقيـق مضـامين څـومره پـه بـې ساختګۍ، بې تکلفۍ، شاعرانه فنکارۍ او ادبي ديانت شعرونه کړي، دا د هغـه لـه ديـن سره روحاني نسبت، د انسان د اصل اصلاح نېکخواهي، علميت، قابليت، پوهه، شاعرانه عظمت او قادرالکلامي په ګوته کوي. دا د هغه ادبي کرامت دی چې اشرف خان هجري غوندې زيرک شاعر يې د ستاينې په وخت له کوم لقب ورکولو څخه عاجز شوی دی. پـه مذهب او ادب کې مشترک ټکی هم دا دی چې د دواړو موضوع انسـان او انسـاني ژونـد دی، نو دا هم يو مهم محرک و چې زه يې دې څېړنې ته هڅولی او پارولی وم.

د دې څېړنې په اړه تر ټولو ستره ستونزه دا وه، چې زه د قرآن او حديث عالم نه يم، نو زما په څېر انسان ته چې د قرآن له حفظ، قرآني علـم او د احـاديثو لـه علـم څخـه خالي وي، داسې څېړنه د ناممکناتو تر حده ګرانه وه، خو بيا هم الله تعالیٰ ممکنه کـړه. په قرآن او حديث کې د تخريج مرحله ډېره زياته سخته وه، ځکه چې په يو يو آيـت پسـې لټون او مبارک احاديث چې په لکونو دي، يوه سړي تـه ډېـر ګـران کـار و، خـو د حـديثو تخريج د "مکتبه شامله" په شان پروګرام د حيرانتيـا تـر بريـده اسـان کـړ، خـو بيـا هـم د حديث د اصل عربي متن لپاره د احاديثو د عالم لارښوونه اړينـه وه. د ښـوونځي او کـالج

په زمانه کې شپږ کاله د يو ډېر قابل او عالم استاذ محترم اظهار علي په درس کې د کېناستو برکت ما په دې څېړنه کې محسوس کړ. پر دې سربېره دوه کاله په روژه کې له مولانا احمد ارشاد شاکر صاحب سره د تفسير په دوره کې ناسته او له پښتو ماسټرۍ(ايم اې) څخه مخکې په اسلامياتو کې د ماسټرۍ(ايم اې) کولو زما د دې څېړنې په تکميل او تشکيل کې لوی لاس لرلی دی.

په پښتو ادب کې د رحمان بابا د شاعرۍ د دې اړخ په حواله د گوتو په شمېر څو مقالو کې په شمېر څو آيتونه او احاديث راوړل شوي وو. آيتونه خو تر ډېره حده له خپلو حوالو سره درست وو، خو ځينو ليکونکيو له قرآنِ حکيم څخه د تخريج او تحقيق له طريقې څخه د ناواقفيت په وجه د آيتونو په حوالو کې غلطۍ کړې وې. د احاديثو حوالې خو لومړی چا لګولې نه وې او که وې هم، نو يا له ثانوي مأخذ څخه وې او يا غلطې وې. دلته زما مخې ته دا ستونزه هم وه چې په احاديثو کې اصل عربي متن راوړل شي، دا استفاده تر ممکن حده له اصلي مأخذ څخه وشي او که چېرته اصلي مأخذ ببخې نه پيداکېږي، نو بيا دې ثانوي ته رجوع وشي، خو الحمدلله چې په دې اقدام کې زه بريالی يم. د قرآن د آيتونو له يوې پښتو ژباړې څخه استفاده شوې ده، که په کوم ځای کې د سياق و سباق له مخې مناسب او ضروري وه، نو هلته ما په بريکټو کې د ژباړې نور وضاحتونه هم کړي دي. تر ممکن حده ما دا کوښښ هم کړی، چې د رحمان بابا په څومره شعرونو کې چې د قرآن او حديث مضامين مونډل کېدای يا محسوسېدای شي، چې هغه وليکل شي او لنډه تبصره پرې وشي. په دې اړه ما د څېړنې د اصولو مطابق په نمونو باندې اکتفا نه ده کړې، ځکه نو دا هم يوه مهمه سختي وه چې زه ترې راتېر شوی يم، خو په دې اړه زه بيا هم دعوه نه لرم چې گنې هر هغه شعر چې د قرآن او حديث څرکونه او اثر يې لره، په دې څېړنه کې خوندي شوي، ځکه چې دا يو لوی سمندر دی. دا موضوع خو بيا داسې ده چې تشبيه يې بنده له سمندرونو سره هم نه شي ورکولای، نو په دې حواله به څه قسمه دعوه مناسبه نه وي. له آيتونو او احاديثو سره ضروري وضاحت ډېر مختصر شوی، ځکه د دې څېړنې مقصد دا و، چې د رحمان بابا استفاده له قرآن او حديث څخه ثابته کړل شي، د متعلقه آيتونو

او احادیثو تخریج وشي، هغسې التزام په تیسس کې شوی دی. اوس د دغو آیتونو او حدیثونو مزید علمي رُخونه څرګندول او په هغې کې ذکر شوې مسئلې رامخې ته کول د یوې بلې ستري څېړنې غوښتنه کوي. ډېر شعرونه داسې هم وو چې مضمون یې په آیت او حدیث دواړو کې تر لاسه کېدای شو، په هغې کې څه په دواړو متعلقه بابونو کې ذکر شوي او څه شعرونه صرف په دویم باب (د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآنِ حکیم اثرات) کې راوړل شوي دي.

لکه څنګه چې د قرآن او حدیث د کار دایره ډېره پراخه او د ژوند پر هر اړخ حاوي ده، همدغه شان د رحمان بابا شاعري چې له دې څخه اغېزمنه شوې، نو له افاقیت سره سره پکې مختلف رنګونه هم ځای شوي دي. که صرف د اخلاقیاتو ذکر هم وشي، نو دا خو هر چا ته معلومه ده چې د رحمان بابا د شاعرۍ تر ټولو زیاته برخه د اخلاقیاتو په تعلیماتو مبني ده. اسلامي تعلیماتو د یو پوره اخلاقي نظام په قیام زور راوړی دی. په دې اړه یې د رول ماډل په حیثیت د محسنِ انسانیت رسولِ اکرم صلی الله علیه وسلم ذات مبارک وړاندې کړی دی. په دې تحقیق کې د اخلاقي تعلیماتو تخریج هم له قرآن او حدیث څخه تر څه حده شوی، خو بیا هم دا دومره لویه موضوع ده چې ځان ته ډېر لوی وخت او شواخون غواړي. د رحمان بابا ډېر فني شعرونه که په غور وڅېرل شي او د هغې پر ژورو معناوو بار بار غور وشي، نو د هغې رګ ریښه به خامخا د قرآن او حدیث له یو نه یو مضمون سره تړلې وي. د انسانیت شاعر(شاعرِ انسانیت) اسلامي علوم ښه لوستي او هضم کړي وو، بیا له هغه وروسته چې د هغه په خوله کوم کلام جاري شو، نو د هغه کلام زیاتره برخه هم د الٰهي او نبوي کلام په تاثر کې وه.

انسان دوستي د هغه د شاعرۍ یوه لافاني موضوع ده. هغه دا جذبه دومره په صداقت او مؤثر انداز را وړاندې کړې، چې ډېر پر ځای ورته د انسانیت شاعر ویل شوی دی. د اسلام په بنیادي اجنډا کې انسان دوستي او له مخلوق سره د ښه سلوک تعلیم اساسي حیثیت لري. له دې زاویې چې څېر شو، نو دا موضوع هم د دې تیسس د بنیادي موضوع یوه ضمني برخه ده.

د رحمان بابا د شاعرۍ خواره واره اړخونه په دې نقطه راغونډېږي چې:" انسان

دې د انسانيت اصل مقام ته ورسېږي. هغه دې د الله داسې بنده جوړ شي چې په دنيا او اخرت دواړو کې کامياب شي. هغه دې په خپل عمل او رويه دا دنيا جنت کړي. د هغه په کړو وړو او مزاج کې پراته ټول روحاني او نفسياتي مرضونه دې د هغو تعليماتو په رڼا کې ختم شي، کوم تعليمات چې له پورته نه د اسلام په شکل کې راغلي دي. رواداري، انصاف، سړيتوب او ټول اخلاقي محاسن دې د انسان سيرت داسې ښکلی کړي چې هغه مثال وګرځي. انسان دې د شيطان له فرېبونو څخه بهر شي او په اسلامي خوشبويو دې خپل ځان معطر کړي. هر انسان ته دې داسې نظر وکړای شي څنګه چې خپل ځان ته کېږي. ترقي د هر چا جايز اخلاقي او انساني حق دی، دا دې ومنل شي. انسان دې د مينې او انساني عظمت رفعتونو ته ورسېږي. مرګ يو داسې حقيقت دی چې خلاصی ترې نشته ځکه نو دا حقيقت چې انسان څومره په وخت ومني هومره زياته ښه ده. ژوند د مرګ امانت دی او له مرګ نه پس يو لوی انتظام دی چې د هغې لپاره د ژوند اهتمام شوی دی. دغه د انسان اصل مقصد دی. د دنيا زندګي امتحان دی، په دې غلطېدل اصل کې بربادېدل دي".

دا او له دې سره ترلې ټولې نورې خبرې د رحمان بابا د شاعرۍ په مختلفو موضوعاتو کې خورې ورې ليدل کېږي. د هغه شاعري دغه اعلیٰ پيغام او سپېڅلی مقصد لري. په دې برخه کې له انسانيت سره د مينې د جذبې صداقت د هغه شاعرۍ ته ابِ حيات بخښلی دی. دغه ټولې ذکر شوې خبرې يوه هم له قرآن، حديث يا په نورو ټکو کې له اسلامي تعليماتو څخه دباندې نه ده؛ ځکه نو دا وينا په ډاډ کېدای شي چې د هغه د شاعرۍ اکثر موضوعات هم د دې کليدي موضوع له اساس سره څه نا څه تړون ضرور لري.

اسلام چې څنګه د حرکت، برکت، حرارت، تحريک او عمل دين دی، همدغه اثر ترې د رحمان بابا شاعرۍ هم اخيستی دی. د هغه په شاعرۍ کې هم د تحريک، جستجو او د عمل تعليم دی. د هغه شاعري د اصل انسان تصور راوړاندې کوي. هرکله چې د هغه د تعليماتو په رڼا کې دغه تصور، انسان پر خپل ځان د عمل په شکل کې پلی کړي، نو يوه مثالي انساني ټولنه به ترې جوړه شي.

د ختيځ په شاعرۍ کې ډېرو شاعرانو د خپل ايډيل تصورات وړاندې کړي دي. دا تاثر په لوېديځ کې هم شته. په شرق کې د خوشحال بابا د "ننګيالي" او د علامه محمد اقبال د "مردِ مومن" تصورات غير معمولي اهميت لري. په دې کې هېڅ شک نشته چې دغه تصورات ډېر ارزښتناک دي. د هغوی په مقابله کې رحمان بابا د خپل ايډيال کوم خاص نوم نه دی ښودلی. کله کله يې د "مرد" اصطلاح کارولې، خو بيا هم په تېر اقتباس کې چې د کومو خوبيو حامل او قابل شخصيت هغه جوړول غواړي نو هغه د اسلامي تعليماتو له پېروۍ پرته ممکن نه دی. زما په خيال د انسانيت شاعر "د انسان تصور" هغه تصور دی چې د اسلام په کالو ورته ښايسته کېدل ضروري دي. ما د عبدالرحمان بابا د شاعرۍ دې تصور ته د نورو په مقابله کې د " تصورِ انسان" نوم ورکړی دی.

حقه دا ده چې يو انسان ښه مسلمان نه وي، نو ښه انسان هېڅکله هم نه شي کېدای. په دې اړه که ځينې عناصر همدا تصور د خپلې چرب زبانۍ په اساس د ذاتي خبرو او مقاصدو د دلالت په توګه د تاويل په شکل کې راوړاندې کوي او د اصطلاحاتو او معناوو يوه نوې کلا جوړوي، نو حق په جانب به نه وي. په دې ضمن کې دا خبره کول هم ضروري ده چې د رحمان بابا په شاعرۍ کې د قلندر، درويش او ملنګ د تصور لټون شوی او د داسې دلايلو د راوړلو هڅې شوي، چې دغه تصور ثابت کړی شي. زه د هر چا رايې ته احترام لرم، خو اختلاف زما حق دی. رحمان بابا د خپلې شاعرۍ په ايينه کې، د ولس په صحيح رواياتو او د تاريخ په پاڼو کې د ملنګ او درويش يا قلندر په هغه شکل نه ښکاري په کوم چې ولس ته د وړاندې کېدلو زيار شوی دی. هغه که د عاجزۍ خبره هم کړې، خو دغه فقر، دغه درويشي او دغه عاجزي د زړه له کيفياتو سره تعلق ساتي، نه د لباس او ژوند ژواک له طريقو سره چې ګنې يو بنده به خامخا له شلو پيوندونو څخه جوړې جامې اغوندي،امسا او کچکول به ګرځوي، دوه سوه امېلونه به په غاړه کوي، لس ګوتمې به اچوي، نو هله به پرې د ملنګ، درويش او قلندر اطلاق کېږي. که رحمان بابا ته په دې معناوو کې دغه درې خطابات ورکړل شوي وي، نو دا خو زما په خيال ډېر لوی زياتی شوی دی. د دې وجه د هغه د شاعرۍ متنې مطالعه

ده. هغه نه د داسې ملنګانو، درويشانو او قلندرانو نمايندګي کوي او نه داسې له ژوند نه فرار وګړي خوښوي. رحمان بابا ژوند ته د حقيقت په سترګه کتلي دي. د هغه په کلام او پيغام کې حرکت، حرارت او تحريک دی. هغه تارک الدنيا او استغراقي صوفي، ګوښه نشين ملنګ او د ځان په غم اخته قلندر نه و، هغه د انسانيت غم ژړلی دی، هغه خو له انسان نه اصل انسان جوړول غواړي. هغه په انساني ټولنه کې فعال کردار لوبولی دی، هغه د خپل ولس او انسان له مسئلو څخه خبردار و، هغه يو ټولنيز سمونپال و، ځکه چې په غار کې يې زندګي نه تېروله، بلکې په دې ټولنه کې يې شپې سبا کولې او د همدې کردارونو د سمولو او د دوی د جذبو او نفسياتو د عکاسۍ په خيال يې شاعري کوله. پر هغه باندې دا دعوه چې په شاعرۍ کې يې د موضوعاتو تنوع نشته، بې بنسټه ده. په اصل کې د هغه د شاعرۍ غټ غټ موضوعات په ګوته کړل شوي، خو په بين السطور کې چې نور کوم موضوعات هم موندل کېدای شي، نو هغه لا پټ پناه پراته دي. يا دا هم ويل کېږي چې د هغه د شاعرۍ د ځينو موضوعاتو له څېړلو څخه په دې وجه هم ځان ژغورنه شوې، چې د ځينو ليکونکيو د ليک له کبله د هغه شاعرۍ ته په يو خاص رجحان او ذهنيت کتل کېږي. د هغه په شاعرۍ کې د ترقي پسندۍ، مجازي عشق، جمالياتو، رومانويت، مزاحمت يا نورو اثارو خبره کول ډېر لوی جرات غواړي. شايد د ولس يوه لويه برخه او د يو خاص مزاج ليکونکي اوس هم دې ته تيار نه وي خو بيا هم دا د رحمان بابا د شاعرۍ او غيرمعمولي قابليت، ذهنيت او ژور فکر غمازي ده چې د هغه په شاعرۍ کې مختلف رنګونه شته. که په دې خبره وشي يا په دې تيسس کې پرې تر څه حده شوې هم ده، نو په دې کې بدي د څه خبرې ده؟ دا خو د هغه د شاعرانه عظمت او عالمانه شخصيت اعتراف دی. بيا ضروري نه ده چې ترقي پسندي، رومانويت او مجازي عشق دې له يو خاص دور، علاقې او نظريې سره وتړل شي، ځکه چې د هر دور په شاعرانو کې د دې څرکونه موجود وي، خو موندل غواړي. دا ټول اثار سره اوړه په اوړه روان وي. دا خبره پر خپل ځای سمه ده چې همدا رجحانات په ځينو دورونو کې د نظرياتو او تحريکونو په شکل کې څرګند شي خو موږ په دې ځای کې دا ويلای شو چې د اروپا له رومانوي او ترقي پسندو تحريکونو څخه ډېر وړاندې زموږ

رحمان بابا رومانوي او ترقي پسند و، خو د هغه په رومانويت او ترقي پسندۍ کې هغه ناخوښ اثرات، انتهاپسندي او مذهب شکنه عوامل نه وو کوم چې د اروپا د شاعرۍ خاصه ده يا د هغې په پيروۍ کې نورو ژبو ته هم دغه انفراديات وروسته را ننوتل. نه د هغه د شاعرۍ محرکات هغه وو کوم چې د يو ذهنيت او رجحان خلاف شروع کېدلو لپاره د يو تحريک شکل اخلي. د انسانيت شاعر خو د خپلې اسلامي نظريې علمبردار، د حق پلوی او په خپل مقام لکه د ونې مستقيم ولاړ دی. دا خبرې ځکه ځای نيسي- چې رحمان بابا په خپل شعر کې پخپله د "نوي نوي اجتهاد" دعوه کړې ده. دا اجتهاد په فکري او فني دواړو حوالو منل ځکه پکار دي چې د رحمان بابا کلام په دې خبره د لمر په شان روڼ دليل دی.

د شاعرِ انسانيت د شاعرۍ له فکري اړخونو سره سره د هغه د فني اړخونو له اهميته هم انکار ممکن نه دی، خو بيا هم هغه خبره دلته تکرارول ضروري شي چې د ليکونکيو ټول زور د موصوف ستر شاعر د فکر په څو اړخونو وتلی؛ دې طرف ته د نشت برابر اشارې شوي، يا يې په بين السطور کې يادونه شوې ده. دا فني اړخونه يوه لويه څېړنه غواړي، خو دلته د دې لوبې يو غټ محرک دغه جمله هم ده چې "د رحمان بابا شاعري، ساده، اسانه، روانه او عام فهمه ده". په دې کې هيڅ شک نشته، ځکه چې دا خيال که چا په مثبت انداز څرگند کړی او که په منفي خو په دواړو حوالو يې د رحمان بابا د شعر نورې څېړنې ته لار بنده کړې ده. څه نا څه ليکونه داسې تر لاسه کېږي چې په هغې کې د څه نويو خبرو او نويو جهتونو د څرگندولو هڅې شوي، چې په تيسس کې يې ذکر شته. په تيسس کې دا کوښښ شوی، چې تر خپله وسه دې د رحمان بابا د شاعرۍ پر فني اړخونو هم څه ليکل وشي، خو دغه کار لا ډېر کم او ناکافي دی، ځکه چې دا متعلقه لور ته صرف اشارې گڼل پکار دي. دلته په فني حواله څه خبرې داسې هم شته چې په لومړي ځل په دې تيسس کې تر بحث لاندې راوستل شوي دي. د رحمان بابا د فني کمال اندازه له دې څخه هم په اسانه لگېدای شي چې هغه د قرآن او حديث په شان ديني موضوعات د خپلو متعلقاتو، لکه اخلاقياتو، انسان دوستۍ، احسان او نورو سره په داسې فني تکميل او انفراديت رامخې ته کړي دي، چې د فن

داد نه ورکول به يې بې انصافي وي. هغه دا موضوعات د وچ وعظ او زهد په شان نه، بلکې په ادبي لطافت او شاعرانه ديانت ترسره کړي دي. د ژبې ځانګړتيا، د متل، ورځنۍ محاورې پر محل استعمال، فني اختصار، دبيان او بديع ماهرانه او فطري استعمال، په وينا کې يو خاص شان، ذوق او وضع داري، فصاحت او بلاغت، د ټولو فني لطافتونو او باريکيو خيال ساتل او د نسبت او تلازمې انفرادي استعمال د هغه د فني شعور، پر شعر د پوهې او فطري شاعرانه مزاج او مذاق غوره غمازي کوي.

د تيسس د مأخذونو په حواله که خبره وشي، نو د رحمان بابا په اړه موجود او تر لاسه کېدونکي هر اثر ته ما د رسېدلو هڅه کړې ده. که خبره د زړو ديوانونو وه، نو په هغو کې د نشت له کبله له ثانوي ذرايعو څخه مرسته اخيستل شوې، خو دا اثر ډېر لږ دی. د ختيځپوهانو(مستشرقينو) له څه متعلقه کتابونو څخه په ثانوي ذريعو استفاده شوې ده. له قرآنِ حکيم څخه آيتونه اخيستل شوي دي. د رحمان بابا ديوان مختلفو خلکو له خپلو مقدمو سره چاپ کړی، په ټولو ديوانونو کې څه لږ شان بدلونونه شته. هسې اکثر ديوانونه زما له نظره تېر شوي، خو د دې تحقيق لپاره څلور ديوانونه زما په وړاندې وو چې ما پخپله هغه اساسي ګڼلي او منلي وو. په هغو کې د کامل او قلندر صاحبانو تاليف شوي کليات، د محکمه ثقافت چاپ کليات، د رحمان ادبي جرګې چاپ کليات چې همدغه د ثقافت د نسخې کاپي ده او د ډاکټر حنيف خليل ترتيب کړی کليات، خو په دې ټولو کې ما د محکمه ثقافت کليات خپله Source نسخه ګڼلې ده. پر دې نسخه د مؤلف او مرتب نوم نشته، خو دا ټول زيار او خدمت رحمان پوه اديب اروابناد پروفيسر محمد الله خليل کړی دی. دا کليات په ډېرو حوالو له نورو څخه ممتاز دی. له دې سره ستر ليکونکي، اديب، نقاد او پوه محترم همېش خليل دوه ناياب غزلونه هم راکړي، چې هغه له يوې نسخې څخه نقل کړي وو، خو په دغه کې يو غزل ما ته د رحمان بابا د سبک نه ښکاري. په ټولو ديوانونو کې د څه شعرونو په قراتونو کې توپير شته. څه قراتونه د معنی په لحاظ هم سمی نه خوري، خو بيا هم د همېش خليل صاحب له لاسه راکړل شوي څو شعرونه چې هغه له يوې نسخې څخه په خپل قلم نقل کړي وو، د غلطيو د راويستلو او ازالې په لړ کې ډېر مفيد ثابت شوي دي. په هر حال په

قراتونو ډېر تفصيلي کار اوس اوس پروفيسر محمد الله خليل د نيمروز قيس په ملگرتيا کې بيا کړی، چې د رحمان بابا يو ضخيم او په زړه پورې کليات يې د کويټې پښتو اکېډېمۍ چاپ کړی، خو بيا هم دا يوه ځان ته ډېره لويه او ژوره څېړنه ضرور غواړي او د اکثرو نسخو املا زړه ده.

د آيتونو د ژباړې لپاره د ډاکټر محمد دين له پښتو ژباړې څخه استفاده شوې ده. د حديثو په اړه نېغ په نېغه استفاده له اصلي عربي مأخذنو څخه شوې ده. په دې ضمن کې د عربو د علم په لړ کې د مکتبه شامله په شکل software يو دومره مرستيال اثر ثابت شوی، چې د مياشتو کار يې ما ته په ورځو کې د تر سره کولو لاس ورکړی دی. دا سافټ وېير چې څومره اسان لگېده، نو هومره گران ځکه و چې په دې کې پر يو عام کمپوزر اعتماد گران و، ځکه نو ما لومړی د دې فن زده کړ او بيا مې ترې په مياشتو مياشتو پخپله استفاده کړې ده. د قرآني آيتونو په نسبت د حديثو د تخريج کار په دې هم گران وو چې حديث د شمېر په لحاظ په لکونو دي او بيا له اصل مصدر څخه د استفادې له کبله په ژباړه کې هم مشکلات ډېر وو. دلته دا خبره هم د يادونې وړ ده چې زما کار چونکې د رحمان بابا په شاعرۍ کې له حديثو څخه د استفادې له تخريج سره وو، ځکه نو صرف د حديث متن او بيا په متن کې له شعر سره د حديث متعلقه برخه راخيستل شوې ده. البته په ضعيفو او موضوعي حديثونو کې چې چېرته ضروري وه نو له متن سره سره سند هم راخيستل شوی او د شوي تحقيق په رڼا کې پرې رايه څرگنده شوې ده.

د مقالې دويم، درېيم، څلورم او پينځم باب خو ببخي له موضوع سره متعلق دي، خو لومړی باب ځکه اېښودل شوی او تر خپله حده پکې يوه لنډه تفصيلي هڅه شوې، چې د رحمان بابا د فکر و فن په اړه کومه تنده راقم محسوسوله چې په هغې کې هم د خپلې ونډې د لرلو يو وړوکی کوښښ وکړی شي.

هر بنده په وس پړ دی او د رحمان بابا په شان د عظيم شاعر په فکر، فن، فلسفه او له اسلامي تعليماتو نه په استفاده کلام کول د يو ډېر اوږد وخت، ډېرو وسايلو او يو پوره ټولگي کار دی. راقم ته په دې کار کې د خپلې کم علمۍ، طالب علمۍ او

کمزورۍ ادراک قدم په قدم شوی دی؛ الله دې وکړي چې دا کوښښ د رحمان بابا د تعلیماتو په موندنه، انکشاف، ترویج، صحیح لوري تهٔ کنه، د هغه د ادبي مقام په څرګندونه او د پیغام په رسولو کې مرستیال ثابت شي. (امین)

په پای کې د رحمان بابا هغه شعر ذکر کول ضروري ګڼم چې په دې څېړنه کې یې زما لپاره د راهِ عمل، استقلال، همت او د لارې د مشال کردار تر سره کړی دی:

څو دې حق موندلی نه دی بې غم مه شه
په دا مرسته جهان واړه لت په لت کړه